Ministry of Urban Development and Land

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت
وزارت شهر سازی و اراضی

# اراضی

ارگان نشراتی وزارت شهرسازی و اراضی

شماره هژدهم
۱۳۹۸ سنبله






وزارت شهرسازی و اراضی؛ برنامه ملی ثبت و اجراء قباله را به هدف ساده سازی مراحل اجرا و ثبت قباله از یک مرجع واحد، تثبیت حق مالکیت و قیمت گذاری ملکیت قبل از اجرای قباله با استفاده از تکنالوژی، موقعیت یابی و اخذ کوردینات زمین یا ملکیت به منظور صدور قباله، تقلیل زمان اجرایی از ۲۵۰ روز به ۲۱ روز، کاهش محصول انتقال حق مالکیت از ۴ فیصد به ۲ فیصد، کاهش فساد اداری در طی مراحل قباله و جلوگیری از جعل و تزویر سند قباله به میان آورده است.

# در این شماره


سخن نخست........................................................................ ۱

اخبار و رویداد های مهم اراضی........................................................ ۲

د تاریخي ابدو د ترمیم او مرمت ملي اداري فعالیتونه................................ ۱۱

به روزی در پیروزی................................................................. ۱۴

د بشپړ خوندي ملکیتونو ژمنه سر ته رسیږي......................................... ۱۸

خاله دکاندار و پنجاه سال انتظار..................................................... ۲۳

د دولتي ځمکو بانک؛ هیلې او خوشبینی............................................. ۲۵

آموزش دهی مسلکی؛ تسریع با کیفیت روند سروی و ثبت زمین های دولتی........... ۲۷

د کابل بیست هزاري سیمې د اوبو رسولو پروژې د تطبیق عملي چارو پیل............... ۳۰

شرح مختصری از فعالیت های ریاست عمومی استملاک............................... ۳۲

یوه برنامه؛ څو بنسټیزې بناري ګټې.................................................. ۳۴

تاریخي ابداتو ته د حکومت ځانګړې پاملرنه......................................... ۳۲



مدیر مسوول: محمد داود تنها

ویراستاران: محمد داود تنها، اسحاق سادات و ضمیر ساپی

گزارشگران: احمد ضیا انتظار، حمید اسدی، محمد داود تنها، نوید الله نبی زاده، سید اسحاق سادات، جواد خسرو، ضمیر ساپی، مرضیه رضایی، عبدالله فکور، حامیه نادری، زلمی سمسور و روح الله تلاش

دیزاینر: محمد نعیم عمر

طبع: مطبعه آزادی

شماره تماس: ۰۲۰۲۳۰۰۷۱۲

ایمیل: media@mudl.gov.af



MUDL
Ministry of Urban Development and Land
د ښار جوړولو او ځمکو وزارت
وزارت شهر سازی و اراضی

ارگان نشراتی وزارت شهرسازی و اراضی

ماهنامه شماره هژدهم، سنبله ۱۳۹۸

آدرس: ناحیه نهم، مکروریان سوم مقابل مطبعه آزادی، کابل افغانستان

ایمیل: info@mudl.gov.af

ویب سایت: www.mudl.gov.af



# سخن نخست

## مکثی بر گستره مصؤنیت ملکیت

نبود سیستم دقیق و معتبر ثبت زمین و ملکیت ها در افغانستان، از دیر زمانی با پیامد نابسامانی های بزرگ اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی از چالش های عمده فرا راه طرح و تطبیق استراتیژی ها ، پالیسی های ملی و پلان گذاری های انکشافی حکومت محسوب می شود. تنش های سیاسی چهار دهه اخیر و فقدان برنامه توزیع زمین و اسکان مردم در برنامه های انکشافی دولت های گذشته، سیلی از بیجا شده گان، مهاجرین و هموطنان بی سرپناه را وادار ساخت، تا از روی نیازمندی به تصرف غیر قانونی زمین های دولتی در حومه شهرها بپردازند، تا جایکه امروز بیش از هفتاد فیصد جغرافیای شهرها را مناطق غیر پلانی تشکیل می دهد.

اما وزارت شهرسازی و اراضی از دو سال به اینسو در پرتو رهنمود اندیشمندانه جلالتمآب محمد اشرف غنی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان؛ برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری را به منظور تأمین مصؤنیت ملکیت های مردم ایجاد و کار سروی و ثبت منازل را در ساحات غیر رسمی و غیر پلانی هشت شهر کابل، هرات، ننگرهار، بلخ، قندهار، بامیان، فراه و دایکندی تداوم بخشیده است.

خوشبختانه سروی و ثبت بیش از ۷۳۰ هزار منزل در ساحات غیر رسمی و غیر پلانی شهرها و حتی برخی ولسوالی های همسرحد با شهرهای یاد شده طی این مدت و همزمان با آن توزیع ۲۰ هزار سند ملکیت به مستحقین عزم قاطع وزارت شهرسازی و اراضی را در تحقق این برنامه انکشافی نشان داد. حال وزارت شهرسازی و اراضی مصمم است تا ختم سال ۲۰۲۰ میلادی با توزیع ۵۰۰ هزار سند ملکیت به منازل واقع در ساحات غیر رسمی شهرهای تحت پوشش و مستفید ساختن حدود سه میلیون هموطن؛ تعهدات جلالتمآب رئیس جمهوری اسلامی افغانستان را با میزان بالایی تحقق بخشد.

علاوتاً وزارت شهرسازی و اراضی در راستای بسر رسانی بهتر این ماموریت در ماه گذشته، سمپوزیم بین اللملی شهری را به هدف غنامندی پالیسی بهسازی و احیاء مجدد ساحات غیر رسمی و غیر پلانی شهرهای کشور در پایتخت برگزار نمود که متخصصان ملی و بین المللی نظریات شانرا با صدور قطعنامه ای در عرصه های مشارکت مردمی در بهسازی، حکومتداری و پلان گذاری شهری، مصونیت و مالکیت حق زمین و بخش مالی صادر کردند.

پلانگذاری پایدار و معیاری سکتور شهری به بهبود وضعیت زنده گی در ساحات غیر رسمی شهری، ترتیب و تدوین معیار های واضح و تغییر پذیر با نظرداشت خصوصیات و شرایط ساحات غیر رسمی هر شهر، ترتیب پالیسی ها و پلان های تطبیقی در هماهنگی با شاروالی ها و تقسیم پلان های عملی به مراحل و نظرداشت پروژه های کوتاه مدت در کنار پروژه های بلند مدت و میان مدت در پلان های تطبیقی، استفاده از تجارب موفق کشورها در رسمی سازی، بهسازی، تنظیم مجدد زمین در روشنایی پالیسی بهسازی و انکشاف مجدد شهری، تطبیق پروژه های نمونوی در کابل و شهر های دیگر از طریق دولت با اشتراک مردم، توانمند سازی شوراهای اجتماعی، گذرها و نواحی شهری توسط شاروالی ها و ادارات همکار به منظور سهمگیری بیشتر مردم در بهبود محلات زیست، حفظ ساحات سفید و تطبیق شهرک های پلان شده به منظور جلوگیری از رشد ساحات غیر پلانی و ترتیب سریع اسناد حقوقی و تخنیکی شامل مقرره ها، طرز العمل ها، رهنمود ها و معیار های پیشنهاد شده در پالیسی بهسازی و انکشاف مجدد شهری از نکات مهم جزئیات توافق شده بود. این موارد قرار است توسط کمیته تخنیکی متشکل از وزارت شهر سازی و اراضی، شاروالی کابل، معینیت شاروالی های اداره ارگان های محلی، زون پایتخت و اداره ملی نورم و ستندرد؛ در قالب پالیسی ها و پلان های تطبیقی پالیسی ملی بهسازی و انکشاف مجدد شهری به زودی تدوین و به شورای عالی توسعه شهری جهت کسب منظوری ارائه گردد.

هکذا وزارت شهرسازی و اراضی به منظور تأمین سهل و بهتر مصؤنیت ملکیت های مردم؛ تعدیل مواد پنجم، هشتم و نهم فصل دوم مقرره تنظیم امور ملکیت های غیر رسمی شهری را به وزارت محترم عدلیه فرستاده که پس از تائید؛ رسماً غرض منظوری به کابینه ارسال گردیده است.

وزارت شهرسازی و اراضی با توجه به تاثیرات فراوان اجتماعی، اقتصادی، محیط زیستی، صحی و امنیتی تحقق اصل مصؤنیت ملکیت بر زنده گی مردم؛ سعی تمام در تطبیق بهتر برنامه ثبت ساحات غیر رسمی شهری در راستای شکوفایی جامعه افغانی دارد.

# اخبار و رویداد های مهم اراضی

## پلان های تفصیلی چهار شهرک رهایشی منظور شد



محترم محمد جواد پیکار سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی پلان های تفصیلی چهار شهرک رهایشی ولایت لوگر را منظور کرد.

در نشستی که به همین مناسبت با اشتراک والی لوگر، شاروالان پل علم و ولسوالی محمد آغه، نماینده گان مردم لوگر در ولسی جرگه و نماینده های جامعه مدنی در مقر وزارت شهرسازی و اراضی دایر گردیده بود، پلان های تفصیلی شهرک های شهدا، اصحاب بابا، کارته مامورین و معلمین ولایت لوگر توسط سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی منظور گردید.

طی این نشست، محترم محمد جواد پیکار گفت: با آنکه لوگر همجوار پایتخت است، اما کار های زیربنایی در آن کمرنگ بوده و حتی در برخی موارد از فعالیت های انکشاف محروم است. باید خاطر نشان سازم که توجه به لوگر برای این وزارت از اولویت های مبرم بوده و بزودی با تطبیق پروژه های انکشافی؛ تغییرات ملموس و قابل ملاحظه در حیات اجتماعی و اقتصادی باشنده گان این ولایت به وجود خواهد آمد.»

سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی افزود: «با توجه به میزان بلند تقاضای هموطنان به مسکن؛ پالیسی ملی مسکن از جانب وزارت شهرسازی و اراضی ترتیب و توسط جلالتمآب رئیس جمهوری اسلامی افغانستان منظور گردیده و با تطبیق آن نیازمندی هموطنان به مسکن طی سال های آینده به صورت قطعی مرفوع خواهد شد.»

محترم محمد جواد پیکار علاوه کرد که وزارت شهرسازی و اراضی طی سه سال آینده با اعمار و توزیع ۲۰۰ هزار خانه، نیازمندی تعداد زیادی از هموطنان را به مسکن مرفوع ساخته و طبق پلان در آینده نزدیک این وزارت مصمم به توزیع ۱۹۲ هزار نمره رهایشی برای معلمین نیز می باشد.

به همین ترتیب، سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی اذعان



نمود که روند تطبیق پروژه های بزرگ ملی و عام المنفعه در لوگر آغاز شده و طی این روند ؛ فرصت های خوب رشد اقتصادی و انکشافی در این ولایت فراهم خواهد شد.

سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی همچنان به منظور رفاه عامه، انکشاف منظم و رشد اقتصادی ولایت لوگر بر ایجاد یک بورد از متخصصین در سطح آن ولایت نیز تاکید ورزید.
متعاقباً، محترم محمد انور خان اسحاق زی والی لوگر و شماری از نماینده گان مردم در ولسی جرگه از همکاری و حمایت بیدریغ سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی و منظوری پلان های تفصیلی چهار شهرک متذکره اظهار امتنان نموده، این اقدام را گام مهم و حیاتی برای مردم آن ولایت خواندند.
در اخیر طرفین، بر تسریع روند تطبیق پروژه های انکشافی، ایجاد زمینه های شغلی به باشنده گان لوگر و تطبیق برنامه های انکشافی در سطح ولسوالی ها به منظور بهبود معیشت و فراهم کردن تسهیلات لازم زنده گی به مردم تاکید ورزیدند.

شهرک شهدا در مساحت ۷۵۱ جریب زمین دولتی با داشتن ۲۰۰ نمره رهایشی و ۱۰۰۰ اپارتمان، شهرک معلمین در مساحت ۳۰۰ جریب زمین دولتی شامل ۹۲۲ نمره رهایشی و شهرک کارته مامورین در مساحت ۱۲۰۰ جریب زمین دولتی شامل ۱۷۱۴ نمره رهایشی در ساحه میر ابدال مرکز شهر و همچنان شهرک اصحاب بابا در مساحت ۳۰۰۰ جریب زمین دولتی شامل ۳۲۴۳ نمره رهایشی در ولسوالی محمد آغه به گونه عصری و معیاری اعمار می گردد. با تطبیق این پروژه ها بیش از ۵۰ هزار باشنده مرکز و ولسوالی محمد آغه ولایت لوگر از مزایای مسکن مناسب مستفید خواهند شد.






# له ماشومانو او معلولینو د ملاتړ مرکز جوړولو لپاره بین‌الوزارتي هوکړه‌لیک او د ځمکې د اجارې تړون لاسلیک شو




په هغې غونډه کې چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په کوربه‌توب جوړه شوې وه، په پلازمېنه کې له ماشومانو او معلولینو د ملاتړ مرکز جوړولو لپاره بین‌الوزارتي هوکړه‌لیک د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر محترم محمد جواد پیکار، د کار او ټولنیزو چارو سرپرست وزیر محترم سید انور سادات، د دولت په چارو کې د شهیدانو او معلولینو وزیر محترم لعل‌الدین آریوبي او د وړ ماشومانو د ابتکار موسسې (ECI) رئیسې اغلې لیل محب له‌خوا لاسلیک شو.

د همکاریو دا هوکړه‌لیک په ۱۳۹۸/۴/۸ نېټه د کابینې پنځمې مصوبې پر بنسټ په اته مادو کې ماشومانو او معلولیت لرونکیو کسانو ته د خوندي چاپېریال رامنځ‌ته کولو، هغوی ته د اوسېدو ځای برابرولو، زده‌کړې او روغتیایي پاملرنې په موخه جوړ او لاسلیک شو.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر محترم محمد جواد پیکار د لاسلیک پر مهال دا هوکړه لیک هراړخیز حقوقي سند یاد کړ. د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر زیاته کړه، په دې هوکړه لیک کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت، د کار او ټولنیزو چارو وزارت او د دولت په چارو کې د شهیدانو او معلولینو وزارت دندې او مسئولیتونه واضح شوي دي.

ورپسې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د خصوصي سازۍ عمومي رئیس محترم وحیدالرحمان رحماني او د وړ ماشومانو د ابتکار موسسې (ECI) یوې مسئولې محترمه الهه ایلی عمر تر منځ له ماشومانو او معلولینو د ملاتړ مرکز جوړولو مرکز جوړېدو په پار د دولتي ځمکې د اجارې تړون هم لاسلیک شو.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د دې تړون له مخې د دېرشو کلونو لپاره د پلازمېنې کابل د اتمې ناحیې اړونده قلعچه خُمدان سیمه کې اووه جریبه پرته دولتي ځمکه د وړ ماشومانو د ابتکار موسسې (ECI) په واک کې ورکوي.

د یاد تړون له مخې د وړ ماشومانو د ابتکار موسسه (ECI) به له ماشومانو او معلولینو د ملاتړ مرکز په جوړولو کې **۵** مېلیونه امریکایي ډالره پانګونه وکړي.

# محترم محمد جواد پیکار: له دولتي ځمکو او ملکیتونو څخه د عایداتي سرچینو په توګه ګټه پورته کیږي



د ښار جوړولو او ځمکو وزارت سرپرست وزیر محترم محمد جواد پیکار، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم معین محترم ګل‌الرحمان توتاخېل، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت یو شمېر مرکزي او ولایتي رئیسانو، د ملي دفاع وزارت د ساختماني چارو رئیس محترم نجیب‌الله شینواري په ګډون له یو پلاوي سره په لیدنه کې د ملي دفاع وزارت تر استفادې لاندې د ځمکو او ملکیتونو څخه د سمې استفادې په اړه خبرې وکړې.

په لومړي سر کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت سرپرست وزیر وویل، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم احکامو او د جلالتمآب جمهور رئیس له لارښوونې سره سم، له ځمکو د سمې استفادې او د عایداتي سرچینو په توګه یې کارول او د ځمکوالۍ ټولې چارې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت له خوا تنظیمېږي.

د محترم محمد جواد پیکار په خبره، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د ټولو دولتي ادارو او په تېره بیا امنیتي سکتور ته د هغوی اړتیاوو پر بنسټ دولتي ځمکه په واک کې ورکوي او تر دې وروسته په هر ځای کې په خپلسر د دولتي تاسیساتو جوړول د قانون خلاف کار دی او په راتلونکې کې د پراختیایي پروژو پر وړاندې خنډونه رامنځته کوي.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر همدا راز څرګنده کړه چې دغه وزارت چمتو دی چې تر دې وروسته دولتي ادارو ته د ځمکو پر انتقال سربېره، ان د ډیزاین او رغاونې چارې هم پر مخ یوسي.

وروسته د ملي دفاع وزارت د ساختماني چارو رئیس له یادې طرحې څخه په هرکلي، د بګرام هوایي ډګر ته څېرمه د ۱۲۷ جریبه ځمکې املاکي شخړې د هوارې، د مارشال فهیم نظامي پوهنتون پراختیا لپاره د څه باندې ۱۸۰ جریبه ځمکې تصفیې او په ریشخورو کې د کوماندو قول اردو پراختیا لپاره ملي دفاع وزارت ته د ځمکې د انتقال غوښتنه وکړه.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر وویل، د مارشال فهیم پوهنتون پراختیا لپاره املاکي شخړه د تصفیې له لارې هواره شوې او اړوندو برخو ته یې لارښوونه وکړه چې په کتبي توګه ملي دفاع وزارت ته د رغنیزو کارونو د پیلېدو اجازه ورکړي.

محترم محمد جواد پیکار د خپلو خبرو په دوام، د تصفیې او د پروان ولایت د ښار جوړولو او ځمکو ریاست او همدا رنګه دولتي ځمکو بانک ته دنده وسپارله چې د تصفیې هیات په ټاکلو سره دې بګرام هوایي ډګر ته څېرمه پر ۱۲۷ جریبه ځمکې شته املاکي شخړه هواره کړي.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر وویل، دغه وزارت چمتو دی چې ځمکې ته د ټولو قول‌اردوګانو د اړتیاوو تر معلومېدو وروسته، د یوه واضح هوکړه‌لیک له مخې هغه د ملي دفاع وزارت په واک کې ورکړي. محترم محمد جواد پیکار د ځمکوالۍ چارو معینیت ته هم دنده وسپارله چې ملي دفاع وزارت سره په ګډه پر هوکړه‌لیک کار وکړي.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر په پای کې یادونه وکړه چې دغه وزارت د جلالتمآب جمهور رئیس لارښوونې سره سم تر راتلونکیو څلورو کلونو پورې ۲۰۰ زره اپارتمانونه او استوګنیزې نومرې د استفادې لپاره چمتو کوي او تر څنګ یې په پلان کې لري چې ټولو قول‌اردوګانو ته د امنیتي او دفاعي منسوبینو کورنیو استوګنې لپاره ښارګوټي ورغوي

# سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی با نماینده خاص دولت کوریا برای افغانستان و پاکستان دیدار کرد




محترم محمد جواد پیکار سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی در دفتر کارش با آقای کیم یانگ-چی نماینده خاص دولت کوریا برای افغانستان و پاکستان دیدار و پیرامون مسایل مهم اقتصادی و انکشافی بحث و تبادل نظر نمودند.

در این دیدار آقای ری زه هیونگ سفیر کوریای جنوبی مقیم افغانستان و آقای شین دونگ-مین مسوول بخش سیاسی سفارت آن کشور نیز حضور داشتند.

ابتدا، آقای کیم یانگ-چی افغانستان را یکی از کشور های دارای اولویت برای کوریایی جنوبی در عرصه فراهم کردن کمک های تخنیکی دانسته، ضمن اشاره به فرصت های موجود اقتصادی و اجتماعی از علایق و روابط نیک دو کشور نیز یاد آوری نمود.

سپس، محترم محمد جواد پیکار سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی با ابراز سپاس از حضور آقای کیم یانگ-چی در افغانستان، کوریای جنوبی را یکی از همکاران خوب افغانستان در عرصه های اقتصادی و انکشافی دانسته افزود:« کوریای جنوبی مُدل موفق در قسمت پلان گذاری شهری برای افغانستان بوده و این وزارت در هماهنگی با وزارت زمین و ترانسپورت آن کشور مصمم به تطبیق مُدل های موفق در این زمینه می باشد.»

سرپرست وزارت شهرسازی و اراضی در خصوص سفر اخیرش به کوریای جنوبی گفت:« وزارت شهرسازی و اراضی به زودی تفاهمنامه های همکاری را با ادارات تحت اثر وزارت زمین و ترانسپورت کوریای جنوبی امضا می نماید که زمینه را برای کسب تجارب و اندوخته های آن کشور در خصوص ترتیب و تطبیق موثر پلان های ملی مکانی و منطقوی، ارتقای ظرفیت و تطبیق بهتر پلان ها و پروژه های انکشافی و اقتصادی در افغانستان فراهم خواهد کرد.»

محترم محمد جواد پیکار افزود: سکتور ساختمانی در افغانستان یکی از سکتور های بزرگ و حایز اهمیت بوده و می تواند زمینه جذب سرمایه گذاری های داخلی و خارجی را در کشور فراهم نماید.»

در اخیر هر دو جانب یکبار دیگر بر تقویت سطح هماهنگی، تبادل تجارب و نظریات و همکاری دو طرف در خصوص ترتیب و تطبیق بهتر پلانگذاری های شهری و برنامه های انکشافی تاکید ورزیدند.

# د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر د لوګر له والي سره وکتل




د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر محترم محمد جواد پیکار د لوګر والي محترم محمد انور خان اسحاقزي سره په لیدنه کې په یاد ولایت کې د پراختیایي او اقتصادي پروژو او برنامو په اړه خبرې وکړې.

په لومړي سر کې محترم محمد انور خان اسحاقزي د لوګر ولایت د پراختیایي او ټولګټو پروژو او برنامو د تطبیق په برخه کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت له همکاریو او فعالې ونډې څخه په مننې، د ځمکوالۍ چارو د تنظیم او د ښارونو په پراختیا کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت ارزښتناکې او اغیزناکې ونډې په اړه خبرې وکړې.

د لوګر والي او د پل علم ښاروال د لوګر ولایت ماسټر پلان او اصلاحي پلان، د غصب شویو دولتي ځمکو استرداد لړۍ، د چوب فروشۍ سیمې د ځمکې ستونزو، د اصحاب بابا، شهیدانو او ښوونکو او مامورینو د کارتې ښارګوټو په اړه تفصیلي جزئیات وړاندې کړل او د شته ستونزو د هوارۍ په برخه کې یې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت د همکارۍ غوښتنه وکړه.

ورپسې د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر محترم محمد جواد پیکار، په لوګر ولایت کې د برنامو او پروژو په تطبیق کې د والي فعاله ونډه وستایله او زیاته یې کړه چې لوګر د پراختیایي او اقتصادي پروژو د تطبیق په برخه کې لومړیتوب لري.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر ډاډ ورکړ چې دغه وزارت تر خپلې وسې هڅه کوي چې د ګټورو برنامو د تطبیق له لارې د لوګر ولایت او سېدونکیو په ټولنیز او اقتصادي ژوند کې مثبت بدلونونه راولي.

محترم محمد جواد پیکار د لوګر ولایت د چوب فروشۍ سیمې د ځمکو شته ستونزو هواري لپاره د ښار جوړولو رئیس او د پل علم ښاروال ته دنده وسپارله چې یاده سیمه دې پر سوداګریزې سیمې بدله کړي او پر ۱۰۲ زیانمنو کسانو دې د بابوس په بالاجوی سیمه کې د ځمکو نومرې ووېشي.

محترم محمد جواد پیکار د لارښوونو په لړ کې همدا رنګه د مرکز ښار جوړولو رئیس او د ښوونکو د استوګنیزو پروژو آمریت ته هم دنده وسپارله چې ژر تر ژره دې د اصحاب بابا، شهیدانو او معلولینو او د مامورینو کارتې ښارګوټو تفصیلي پلانونه د منظورۍ لپاره چمتو کړي.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزیر همدا راز د پل علم ښاروال ته لارښوونه وکړه چې د سوداګریزو نومرو وېش لپاره حقوقي موضوعاتو ته په کتو د ښار جوړولو رئیس سره په همغږۍ د یادې سیمې تفصیلي پلان هم چمتو کړي.

د کتنې په پای کې دواړو لوریو یو وار بیا په لوګر ولایت کې د پراختیایي او اقتصادي برنامو ښه پلي کېدو په موخه د همغږیو پر لا زیاتېدو ټینګار وکړ.

# د دولتي ځمکو بانک روزنيز ورکشاپ پيل شو




د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په نوښت د دولتي ځمکو بانک پنځه ورځنی روزنيز ورکشاپ د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير محترم محمد جواد پيکار، د دغه وزارت معينانو، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت مرکزي او ولايتي رئيسانو، د ياد بانک چارواکيو او په افغانستان کې د يو.ان هبيتات دفتر مشر محترم فرناندو دی‌کروز په ګډون پيل شو.

دغه ورکشاپ د دولتي ځمکو بانک په اړه د يو مستند فلم په خپرېدو پيل شو او ورپسې د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير خپله وينا واوروله.

محترم محمد جواد پيکار، د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په تشکيلاتي جوړښت کې د نويو رياستونو او ادارو لکه د افغانستان د انجينيرۍ او مهندسۍ انکشاف ادارې، ښاري او ساختماني سرغړونو ته د رسېدنې ادارې، د تاريخي ابدو د مرمت او بيارغونې ادارې، د کور جوړونې ادارې، د خصوصي سازۍ معينيت او په زونونو کې عمومي رياستونو ته په اشارې زياته کړه چې دغه ډول اداري او نورو مثبتو بدلونونو په پايله کې د ياد وزارت ټولې چارې په ښه توګه رواني دي.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير د پاليسۍ جوړونې برخه کې يادونه وکړه چې نهو ښارونو لپاره د ساساکي پر پلان کار روان دی، څو له لارې يې د دغو ښارونو د پراختيا مسير په ډاګه شي.

محترم محمد جواد پيکار په دغو ټولو برنامو او نوښتونو کې د جلالتمآب جمهور رئيس له ملاتړ څخه په مننې څرګنده کړه چې تر لاس لاندې برنامې د افغانستان لپاره د يوې ښې راتلونکي زېرې ورکوي.

د ښار جوړولو او ځمکو سرپرست وزير همدا رنګه وويل، د لومړي ځل لپاره د حکومت د مشرتابه له ژمنې سره سم د دولتي ځمکو غصب جرم ګڼل کيږي او په دې برخه کې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت بې‌سارې لاس‌ته راوړنې لري چې د هېواد په کچه د **۵۰۰** زره جريبه ځمکې استرداد، عدلي او قضايي ارګانونو ته پر غصب د تورنو کسانو پېژندنه او غصب شويو دولتي ځمکو ته رسېدنه د هغو ښې بېلګې دي.

محترم محمد جواد پيکار په خپلو خبرو کې د دولتي ځمکو بانک يادونه هم وکړه او ويې ويل: «د دولتي ځمکو بانک له لارې تر دې دمه څلور اعشاريه څلور مېليونه جريبه دولتي ځمکه سروې او ثبت شوې ده. د دولتي ځمکو د دغې لويې برخې سروې، د افغانستان په ځمکوالۍ تاريخ کې يو ستر انقلاب بلل کيږي. د بهرنيو ادارو له هر اړخيزې مرستې څخه په مننې دا بايد ووايم چې موږ د دولتي ځمکو بانک په دويم پړاو کې له ثبت شويو ځمکو د ګټې اخېستلو څرنګوالي په اړه کړنلاره جوړوو. دولتي ځمکه د اوس او راتلونکي نسل ستره پانګه ده او موږ د دغې پانګې ساتنې ته ژمن يو.»

محترم محمد جواد پيکار، مرکزي او ولايتي رئيسانو ته د اداري چارو عصري کېدو، د فساد او غصب پر وړاندې د مبارزې، د دولتي ځمکو بانک او د غيررسمي ښاري سيمو ثبت پروګرام د چارو چټکتيا په هکله هم يو لړ لارښوونې وکړې.

# بیش از ۲۰ جریب زمین در کابل تصفیه گردید

وزارت شهرسازی و اراضی مجموعاً **۲۳,۵۲** جریب زمین دولتی را در شهر کابل مورد عمل تصفیه قرار داد.
قطعات زمین یاد شده شامل **۲۲,۷۳** جریب در ساحات شش درک، دهمزنگ، کارته چهار، تپه مرنجان و چمن حضوری به هدف تثبیت جایداد های اتحادیه امکا و **۰,۷۹** جریب زمین در ساحه پل خشتی شهر کابل به منظور تعیین مسیر دو طرفه دریای کابل تصفیه گردیده است.
اراضی متذکره به اساس احکام جداگانه مقام عالی ریاست جمهوری ا.ا از سوی این وزارت تصفیه گردیده است.

# تقرری جدید در وزارت شهرسازی و اراضی



سرپرست ریاست مشارکت عامه و خصوصی معینیت خصوصی سازی وزارت شهرسازی و اراضی معرفی گردید.
محترم عزیز احمد گلستانی معین امور مسکن وزارت شهرسازی و اراضی؛ طی محفلی محترم فیصل احمد امیری سرپرست ریاست مشارکت عامه و خصوصی معینیت خصوصی سازی این وزارت را رسماً به کارمندان این ریاست معرفی کرد.
محترم گلستانی در خصوص این تقرری جدید گفت:« محترم امیری یک کدر متعهد، مخلص و شایسته وزارت شهرسازی و اراضی بوده و امیدواریم با آغاز کار ایشان در این بخش؛ شاهد انتظام و پیشرفت امور محوله به وجه احسن، مدیریت عالی و نو آوری های خوب کاری باشیم.»
متعاقباً، محترم فیصل احمدی امیری سرپرست ریاست مشارکت عامه و خصوصی معینیت خصوصی سازی وزارت شهرسازی و اراضی گفت:« ضمن ابراز امتنان از اعتماد و حسن نظر رهبری وزارت شهرسازی و اراضی در گزینش بنده در این پست؛ تعهد می سپارم که از هیچ تلاشی در اجرای احسن امور محوله دریغ نورزیده و از تجارب حاصله و مشوره های علمی و عملی مقام رهبری در تطبیق موثر پلان های وزارت شهر سازی و اراضی استفاده نمایم.»
محترم فیصل احمدی امیری به اساس پیشنهاد وزارت شهرسازی و اراضی و حکم شماره ۱۲۲۸ مورخ **۱۳۹۸/۰۵/۰۵** مقام عالی ریاست جمهوری ا.ا در بست دوم منحیث سرپرست ریاست مشارکت عامه و خصوصی معینیت خصوصی سازی وزارت شهرسازی و اراضی تعین گردیده است.

# په جوزجان ولایت کې د فیض اباد ولسوالۍ ودانۍ رغول کیږي

ښار جوړولو او ځمکو وزارت د ثبات تحکیم ملي پروګرام له لارې د جوزجان ولایت د فیض اباد ولسوالۍ اداري ودانۍ چارې ۸۰ سلنه بشپړې کړې دي او په نږدې راتلونکي کې به ګټې اخېستنې ته وسپارل شي.
دا ودانۍ په ۵۰۷۰۲۷ متر مربع ځمکه کې په درې پوړیز ډول، د سیمه‌ییزو ارګانونو خپلواکې ادارې له انکشافي بودیجې څخه په ۲۴ میلیونه ۷۳۹ زره افغانیو جوړیږي.

ښار جوړولو او ځمکو وزارت د ثبات تحکیم ملي پروګرام له لارې د ټولګټو دولتي تاسیساتو په جوړولو سره حکومتي کارکوونکو ته اسانتیاوې رامنځته کوي، په مرکز او ولایتونو کې د اغېزناکې حکومتولۍ د پراختیا لپاره ګټور خدمتونو وړاندې کوي او په انکشافي چارو کې د همغږۍ زیاتولو ته زمینه برابروي.



---

# بیش از ۱۰۰ جریب زمین در ولایت کابل تصفیه گردید.

وزارت شهرسازی و اراضی ۱۰۴,۷۸ جریب زمین دولتی را در ولسوالی پغمان ولایت کابل تصفیه نمود.
از این رقم، موازی ۱۱,۳۵ جریب زمین در قریه خالداری،۹۲,۸۰ جریب در بالا جوی قرغه به هدف حل منازعه میان اشخاص و دولت و موازی ۰,۲۳ جریب زمین در ساحه پل کمپنی به منظور ایجاد پارک سرسبزی در امتداد دو کنار دریای کابل تصفیه گردیده است.
قطعات زمین یاد شده از نوع بکر و زراعتی به اساس حکم مقام عالی ریاست جمهوری ا.ا از سوی وزارت شهرسازی و اراضی تصفیه گردیده است.

وزارت شهرسازی و اراضی به منظور تثبیت و تفکیک زمین های دولتی از شخصی و همچنان مساعد ساختن شرایط استفاده معقول و مؤثر از زمین دولتی، تا کنون موازی ۲۳۴۷۹,۹۱ جریب زمین دولتی را در مرکز و ولسوالی های ولایت کابل تصفیه نموده است.



# د تاريخي ابدو د ترميم او مرمت ملي اداري فعاليتونه

زلمی سمسور
اسحاق سادات

مخکې تر دې چې تاريخي ابداتو او جوماتونو د پروژې پر موخو او د دې برنامې د پلې کيدو پر بهير، پر وړاندې يې د پرتو خنډونو او فعاليتونو په اړه وغږيږو اړينه ده چې د مقدمې په توګه زمونږ د هېواد د دغې فرهنګي او مذهبي هستی په ارزښت او اهميت يو څو خبرې وشي.

د يوه هيواد تاريخي او کلتوري ميراثونه، د هغه هيواد د تاريخي مخينې او کلتوري تمدن ښکارندويي کوي.

زمونږ په هېواد کې دغه تاريخي ودانۍ او کلتوري ميراثونه په اصل کې، زمونږ راتلونکي نسلونه د تيرو نسلونو د نادرې او ماهرانه معمارۍ، هنري فنکارۍ او د کلتوري هستيو له مخينې څخه خبروي.

د دې تر څنګ تاريخي ابدې، منارونه او په ټوله کې له پخوانيو زمانو راپاتې تاريخي ميراثونه د هيواد په ښارونو کې د پخوانيو نسلونو برم، د ژوند او اصيل هويت بيلګې هم ګڼلې کيږي.

پر افغانستان د پرديو د تهاجم، لشکر کشيو، د دغو بهرني تاخت و تازونو پر وړاندې د ولس مقامتونه، بيا له هغه را وروسته په افغانستان کې کورنۍ جګړې، سياسي بي ثباتي او طبيعي افتونه د هغو عواملو له جملې ګڼلای شو چې زمونږ د هېواد دغه فرهنګي هستۍ ته يې ګواښ متوجه کړی، د يادو لاملونو لهکبله پراخ زيانونه ور اوښتي او يا ان تر دې چې ويجاړې شوې دي.

ویجاړ او یا نیمه ړنګ تاریخي ابدات له یوې خوا د اوسنیو نسلونو پر ذهن او فکر ناوړه اغیز ښندي له بل پلوه که دغه تاریخي ابدې احیا نشي د پخواني نسلونو تاریخي میراثونه او هویت د ورکاوي له ګوښ سره مخ کیږي.

په افغانستان کې د تاریخي ابدو او جوماتونو، خانقاوو او نورو کلتوري ارزښت لرونکو ځایونو تاریخي، اقتصادي، توریستي او معنوي ارزښت ته په کتو د افغانستان د ملي یوالي حکومت له خوا د دې تاریخي، کلتوري او ملي هویت د تثبیت، ثبت او سروې، حفاظت، ترمیم، تحکیم او بیا رغونې په موخه د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په چوکات کې د تاریخي ابدو او جوماتونو د ترمیم او بیارغونې پروژه، د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني د ۲۰۲۵ شمېرې حکم له مخې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په چوکاټ کې په( ۱۳۹۵/۷/۱) نېټه رامنځته او پر فعالیت یې پیل وکړ.

دوه کاله کیږي چې دغه پروژه د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د تاریخي ابدو او جوماتونو د مستند سازی، مطالعې، سروې، طرحې او ډیزاین کولو په برخه کې د یوه منظم پلان له مخې کار کوي.

د تاریخي ابداتو ودانیزې چارې د نورو ساختماني کارونو په پرتله بل ډول دي، د دغو تاریخي ابداتو د بیا رغونې په موخه د مطالعاتو څو پړاونو ته ځکه اړتیا لیدل کیږي چې د تاریخي میراثونو پخوانی نادر ودانیز سبک او تاریخي اصالت باید حفظ (خوندي) شي.

نو په دې توګه، د تاریخي اصالت او پخواني نادر ودانیز سبک د خوندیتابه لپاره دهرې پروژې په تطبیق کې دغه لاندې پړاونه لازم او په پام کې نیول یې اړین دي.

۱. مطالعات، سروې او طراحي، ۲. ښنستیز تحکیمات او سمونې،۳. ښکلایز اړخ او داخلي تخنیکي سمونې( ترمیمات) ۴. ښکلا ایز اړخ، بیروني تخنیکي سمونې( ترمیمات).

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت، د تاریخي ابدو او جوماتونو د ساتنې، ترمیم او بیا رغونې پروژې، له اطلاعاتو او کلتور وزارت، حج او اوقافو وزارت او نورو اړونده دولتي او نړیوالو بنسټونو سره د یوې بشپړې همغږۍ په پایله کې د هېواد په کچه د تاریخي ابدو یو ډیټابیس تیار کړی دی.

په دې چمتو شوي ډیټابیس کې د هېواد په ۳۴ ولایتونو کې هغه پراته تاریخي میراثونه، چې د تاریخي ابدو لپاره ټاکل شوي معیارونه یې پوره کړي او تاریخي ابدو ته د وضع شوي پیژاند له مخې ابده ګڼل کیږي، ثبت شوي دي.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت، د تاریخي ابدو د ترمیم، ساتنې او بیارغونې پروژې په مټ، له اطلاعاتو او کلتور وزارت، حج او اوقافو وزارت او نورو اړونده دولتي او نړیوالو بنسټونو سره د یوې بشپړې همغږۍ په پایله کې د هېواد په کچه تردې مهاله نږدې د ( ۱۰۰۰ ) تاریخي ابدو نومونه، د هغوی د موقعیت، موندل کیدو نیټې او تاریخي مخینې پر بنسټ په ډېټابیس کې ثبت شوي دي.

دغه برنامه اړتیا او امکاناتو ته په کتو د دې ډیټابیس پربنسټ خپل کاري پلان تنظیموي او له دغو ثبت شوو ابدو څخه هر کال یو شمېر د اړتیا او اهمیت له مخې د ترمیم او یا بیا رغونې تر پوښښ لاندې راولي.

د دغې برنامې د مسولینو له قوله د تاریخي ابدو د سمونې(ترمیم) او بیارغونې پروراندې تر دې مهاله امنیتي ستونزې نشته ځکه دغه برنامه اوس‌مهاله تر ډېره د هغو تاریخي ابدو او جوماتونو په بیا رغونه او ترمیم بوخته ده چې د ولایتونو په مرکزونو او یا په نسبي توګه په امن سیمو کې پراته دي.

مسولین د ځینو پروژو د ژر نه بشپړېدو او یا ټپ پرمختګ سبب په تدارکاتي پړاوونو کې ځنډ، اساسي ربره بولي، د دوی په خبره داسې پروژې هم شته چې یو کال یې پوره کیږي خو تدارکاتي پړاوونه یې لا نه دي بشپړ شوي.

تاریخي ابدو او جوماتونو د ترمیم او بیا رغونې پروژه اوس مهال د هېواد په کچه، د تاریخي ابدو او جوماتونو د ترمیم (سمونې) او بیا رغونې چارې په چټکۍ سره پرمخ وړي.

د هغو پروژو له ډلې چې د دغې برنامې له لوري تر کاري پوښښ لاندې راوستل شوې دي، ډېر شمېر یې د بشپړېدو په درشل کې دي، د یو شمېر پروژو بیا یوازې د طرحې او ډیزاین چارې بشپړې شوي چې د عملي چارو د پلېدو په موخه د تدارکاتو ملي اداري ته ور استول شوي دي.

ځینې داسې پروژې هم شته چې د تاریخي ابدو او جوماتونو د ترمیم او بیا رغونې پروژې تخنیکي ټیمونه سیمې د تخنیکي سروې په موخه ور لیږل شوي دي.

زه د بېلګې په توګه لومړی په لنډ ډول د هغو پروژو په اړه چې د ترمیم او بیا رغونې چارې یې د بشپړېدو په درشل کې دي، غږیږم.

د بدخشان ولایت په مرکز فیض آباد ښار کې د خرقې مبارکې مسجد د جوړېدو چارې، په دوه پوړیزه بنه د ۲۷.۶۲ میلیونه افغانیو په مالي لګښت، ۹۶.۴ سلنه بشپړې شوي په نږدې راتلونکې کې به د لمونځ کوونکو پرمخ پرانیستل شي.

د کندهار ولایت د حرم‌سرای د ترمیم او بیارغونې پروژه چې د کندهار ښار په څلورمه ناحیه کې موقیعت لري، په دوه پوړیزه بنه د ۱۴.۴ میلیونه افغانیو په مالي لګښت رغول کیږي او تر دې مهاله یې ۷۱ ٪ چارې پرمخ بیول شوې دي.

کندهار کې د میر هزار جومات د ترمیم او بیارغونې پروژه، په یو پوړیزه بنه د ۱۲.۶ میلیونه افغانیو په مالي لګښت جوړیږي چې تر دې مهاله یې ۵٪ د رغونې چارې پر مخ تللې دي.

د هرات جامع جومات په یو پوړیزه بنه د ۲۴.۱ میلیونه افغانیو په مالي لګښت، د تاریخي ابدو او جوماتونو د ترمیم او بیارغونې پروژې له لوري جوړیږي چې تر دې مهاله یې ۲۸.۲ سلنه چارې پرمخ وړل شوې دي.

د بدخشان ولایت د خرقې مبارکې د



جومات چاپېره دېوال رغونه او د دې ترخنګ په مرمر تیږو د یاد مسجد د غولي (صحن) فرش کول د ۳.٦ میلیونه افغانیو په مالي لګښت د پلې کېدو په حال کې دی چې تر دې دمه یې ۱۸.۳ سلنه چارې بشپړې شوي دي.
کابل ښار کې د پل خشتي جامع جومات د تحکیماتو او ترمیم پروژه ۱۲۱.۴ میلیونه افغانیو په مالي لګښت د بشپړېدو په حال کې د دغې پروژې ۹۰٪ رغنیزې چارې تر دې مهاله بشړې شوې دي.
کابل ښار کې د وزیر اکبر خان غونډۍ یادګار پارک ٦۲.۱۲ میلیونه افغانیو په لګښت جوړیږي چې تر دې مهاله یې د جوړونې چارې ۷۷.۷ سلنه پرمختګ لري.
کابل د باغ بالا ماڼۍ د ترمیم او بیا رغونې چارې د ۲.۷۹ میلیونه افغانیو په مالي لګښت ترمیم اوبیا جوړیږي چې تر دې مهاله یې ۷۸ سلنه پرمخ بیول شوې دي.
کابل ښار کې د پارلمان د شهیدانو هدیرې د جوړونې چارې ۴٦ سلنه پرمخ وړل شوي چې ۲۸.۸۹ میلیونه افغانیو مالي لګښت ورباندې شوی.
کابل ښار په دریمه ناحیه کې د افغان سید جمال الدین قبر د ترمیم او بیا رغونې پروژې د طرحې او ډیزاین چارې بشپړې شوې اوس‌مهال په تدارکاتي پړاو کې ده چې د اټکل له مخې ۳۷ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي.
کابل کې د معاذ بن جبل جومات چې د طرحې او ډیزاین چارې یې بشپړې شوي، اوس‌مهال دغه پروژه هم په تدارکاتي پړاو کې ده. ټاکل شوې چې په ۲ پوړیزه بڼه ورغول شي.
د ځښتو په وسیله د هرات جامع جومات د لومړي لاټ پوښل چې د ۳۱.۷۸ میلیونه افغانیو په مالي لګښت یې تازه چارې پیل شوې دي.
د یادونې وړ ده چې د یاد بام ټول پراخوالی ۴۸۰۹۵ متره مربع کیږي او ټاکل شوې ۱٦۵۹۹ متره مربع په ځښتو و پوښل شي.
په بلخ ولایت کې د جنګي کلا د بیا رغونې او ترمیم پروژه تر طرحې او ډیزاین لاندې ده، سیمې ته تخنیکي پلاوی لا نه دی استول شوی نو ځکه یې پراخوالی تر اوسه مالوم نه دی.
په کابل ولایت کې د سید اسماعیل بلخي د مقبرې د ترمیم او بیارغونې پروژې د طرحې او ډیزاین چارې بشپړې شوي او د روان کال د جوزا په ۸ مه نیټه د تداکاتو ملي ادارې ته د نورو پړاوو د بشپړاوي په موخه استول شوې ده.
غزني کې د هندوانو پیرتنات درمسال د بیا رغونې او سمونې چارې اوس‌مهال د طرحې او ډیزان په حال کې دي نږدې راتلونکې کې به دغه درمسال ،چې ۵۱۴.۵ متره مربع پراخوالي لري، په دوه پوړیزه بڼه ورغول شي.
د غازي امالله خان مقبرې د ترمیم او بیارغونې پروژه د ولسمشرۍ ماڼۍ حمایوي عملیاتي اداري ته ور لیږدول شوې ده.
د پروان جامع جومات د رغونې پروژه په تدارکاتي پړاو کې ده که یې تدارکاتي مراحل پر وخت بشپړ شي په ۱۳۹۸ کال کې به یې له د وړاندوینې سره سم نږدې ۴۰ سلنه چارې پرمخ یوړل شي.
د کابل ولایت د نور الاسلام جومات د ترمیم او بیا رغونې پروژه، په بامیان ولایت کې د میر هاشم مقبرې د بیا رغونې او ترمیم پروژه، د سمنګان ولایت د رستم تخت د رغونې او ترمیم پروژه او په بدخشان ولایت کې د غیاثي جومات د رغونې او ترمیم پروژه تر سروې، مطالعې، طرحې او ډیزاین لاندې دي چې تر دا مهاله یې د سروې، مطالعې، طرحې او ډیزاین چارې تر ډېره پر مخ وړل شوې دي.

# به روزی در

# پیروزی




محمد داود تنها

وزارت شهرسازی و اراضی به اساس مصوبه پالیسی مسکن، مورخ ۲۵ حمل سال ۱۳۹۸؛ ایجاد و انکشاف یک سیستم کارا، پایدار و انعطاف پذیر به منظور تهیه مسکن با کیفیت و قابل استطاعت برای هموطنان را در روشنی احکام ماده ۱۴ قانون اساسی کشور در صدر اولویت های کاری اش قرار داده است.

یکی از اقدامات در این راستا آغاز کار احداث شهرک پیروزی به منظور رفع نیازمندی مسکن هموطنان به اساس مصوبه شماره ۲ بیست و پنجم ثور ۱۳۸۵ شورای محترم وزیران در ۳۵ کیلومتری شمال کابل است. این شهرک در ولسوالی ده سبز در مساحت ۸۲۲۲ جریب زمین با طراحی ۸۸۰۰ زمین رهایشی حویلی دار، ۴۱۷ بلاک رهایشی بلند منزل، ساحات سبز، صنعتی و تجارتی در امتداد مسیر سرک کابل-بگرام اعمار می گردد.

طوریکه در ماستر پلان این شهرک؛ حویلی های رهایشی در مساحت عمومی ۹۱۳ هکتار، بلند منزل های رهایشی در مساحت عمومی ۲۰۱ هکتار، ساحات



سبز و پارک ها در مساحت عمومی ۳.۷۷ هکتار و ساحه صنعتی در مساحت ۷۰۰ هکتار زمین طراحی شده است.

این شهرک رهایشی با معیار های قبول شده شهرسازی و اعمار مسکن و ستندرد های بین المللی و نظرداشت نیازمندی های اولیه متکی به خود، توسط سکتور خصوصی تحت نظر وزارت شهرسازی و اراضی اعمار گردیده و شرکت های ذیدخل از کیفیت کارکرد هایشان تا یکسال بعد از ختم پروژه ضمانت می دهند.

شهرک رهایشی پیروزی در منطقهٔ با آب و هوای عالی و فضای آرام دور از شهر احداث گردیده و تمامی فعالیت های زیربنایی آن قبل از جابجایی شهریان عزیز تکمیل می گردد.

در ماستر پلان این شهرک سهولت های چون مساجد جامع، مراکز صحی و شفاخانه، موسسات تحصیلات عالی و معارف، سینما و تیاتر، پارک های سبز و تفریحی، مراکز تجارتی، مجتمع ورزشی، پسته خانه، امکانات ترانسپورتی، شبکه های برق، انترنت، آبرسانی، کانالیزاسیون و ساحه خاص برای ایجاد فابریکات کوچک تولیدی گنجانیده شده است.

در این شهرک اقشار مختلف مردم به خصوص مامورین دولت و اقشار کم درآمد در فضای آرام، مطمئن و محیط زیست سالم از لحاظ تعلیم، کار و تفریح زنده گی خواهند کرد. ساحات مسکونی شهرک پیروزی مطابق ماستر پلان به شش فاز A، B، C، D، E و F نام گذاری گردیده است.

احداث شهرک پیروزی متضمن ایجاد زمینه کار برای هموطنان، محیط زیست سالم، کاهش قیمت روز افزون مسکن و تراکم نفوس شهر کابل بوده، تسهیلات لازم با اقساط طویل مدت و امکانات زنده گی بهتر را به هموطنان به ارمغان می آرد. قیمت زمین در شهرک رهایشی پیروزی هر متر مربع ۲۰ دالر و قیمت هر متر مربع مصارف ساخت زیربنا ۱۵ دالر و یا معادل آن به افغانی مطابق مصوبه شماره ۴۰ مورخ ۳۰ جدی سال ۱۳۹۳ شورای محترم وزیران و جلسه هماهنگی وزارت اقتصاد، مالیه و شهرسازی و اراضی تعین گردیده است.

طرزالعمل فروش طوری است که مشتری درخواست عنوانی وزارت نوشته؛ سپس شرط نامه را از بخش فروشات دریافت و با توافق آنرا امضاء یا شصت می نهد.

در این پروسه کاپی تذکره و دو قطعه عکس لازمی بوده و صرف یک نمره زمین به یک دارنده تذکره داده می شود. به همین ترتیب درخواست کننده تعرفه اش را از وزارت دریافت نموده و بانک آویز می دهد. از شمار ۵ قسط یک نمره زمین؛ بیست فیصد قیمت مجموعی در قسط اول پرداخت گردیده و در ساحات تجارتی و صنعتی ۳ قسط در ۳ سال تحویل شده و درصورت مستردی ۱۵٪ مصارف اداری از مشتری اخذ می گردد.

فاز A شهرک پیروزی در مساحت ۲۳۱.۲ جریب، شامل ۱۸۰۷ نمره رهایشی، ۲

مکتب، سه مسجد ، ۴ مارکیت، ۱ مرکز فرهنگی و ۱ پارک،
فاز B در مساحت ۲۷۲.۴ جریب، شامل ۵۷۹ نمره رهایشی، ۱ مکتب، ۲ مسجد ، ۱۰ مارکیت، ۱کلینیک، ۱مرکز فرهنگی و ۱کودکستان، فازC در مساحت ۵۳۷.۲۵ جریب، شامل ۱۰۷۷ نمره رهایشی، ۳ مسجد ، ۲ مکتب، ۱۰ مارکیت، ۲ کودکستان، ۲ مرکز فرهنگی و ۱کلینیک، فازD در مساحت ۹۰۱.۸۳ جریب، شامل۱۸۹۹ نمره رهایشی، ۲ مکتب، ۳ مسجد ، ۱۰ مارکیت، ۲ کودکستان، ۲ مرکز فرهنگی و ۱ کلینیک و فاز E و F به اساس هدایت شماره ۱۲۷۰ میزان ۱۳۹۷ مقام عالی ریاست جمهوری، برای ۱۱۷۷ خانواده ورثه شهدای ارگان های دفاعی و امنیتی به گونه رایگان توزیع گردیده است.

فاز E در مساحت ۴۱۸ جریب، شامل ۱۸۲۴ نمره رهایشی، ۲ مکتب، ۳ مسجد ، ۴ مارکیت، ۲ کودکستان، ۴ مرکز فرهنگی و ۱ کلینیک و فازF در مساحت ۴۷۲ جریب، شامل ۲۱۲۲ نمره رهایشی، ۲ مکتب، ۴ مسجد ، ۴ مارکیت، ۲ کودکستان، ۲ مرکز فرهنگی، ۱کلینیک ، ۴ پارک عمومی، ۲ حمام و ۲ تشناب عمومی طرح و دیزاین گردیده است.

هم اکنون کار طرح و دیزاین سرک ها و شبکه های زیر بنایی فاز های E و F شهرک پیروزی با نظر داشت معیار های ملی و بین المللی با تکنالوژی عصری جریان داشته و پلان های عملی آن تا ختم سال ۱۳۹۸ تکمیل و احداث سرک ها و شبکه های آب و برق شامل پلان بودجه سال مالی ۱۳۹۹ می گردد .

در بخش تأمین برق شهرک پیروزی؛ بحث انتقال ۱۰۰ کیلووات برق غرض فعالیت واترپمپ های سه چاه آب و تنویر پروژه با شرکت برشنا نهایی شده و آماده نصب ترانسفارمر با پرداخت هزینه از جانب آمریت شهرک پیروزی است.

همچنان کار سروی، طرح و دیزاین مسیر پایپ لاین از ولسوالی کلکان تا ذخیره عمومی شهرک پیروزی با نظرداشت نیاز به ۱۸۰۰ کیلووات برق تکمیل و قرارداد آن به تدارکات ملی ارسال است.

به همین ترتیب؛ دیزاین شبکه برق ساحات رهایشی با نیازمندی ۲۰ کیلووات تا ختم سال جاری تکمیل گردیده و قیمت تخمینی توسط شرکت برشنا پس از سروی و دیزاین ارائه می گردد.

در بخش تأمین آب؛ طرح و دیزاین پایپ لاین آبرسانی از ولسوالی کلکان تا شهرک پیروزی با ساختمان ذخیره عمومی آب توسط آمریت شهرک پیروزی با هزینه ۴ میلیون و ۸۷۴ هزار و ۵۲۸ دالر امریکایی در یک سال کاری تکمیل گردیده است.

در همین راستا کار تطبیق شبکه های آبرسانی و کانالیزاسیون فاز B به طول ۱۴ کیلومتر با پیشرفت ۸۰ فیصد تحت کار بوده و طرح و دیزاین شبکه های آبرسانی و کانالیزاسیون فاز های E ، D ، C و F این شهرک تا ختم سال ۱۳۹۹ تکمیل می





گردد.
از بُعد محیط زیستی تمامی اثرات و پیامد های نا مناسب این پروژه ارزیابی گردیده و با ارائه گزارش جامع؛ لایسنس اعمار شهرک پیروزی مطابق ماستر پلان و نظر داشت معیار های محیط زیستی از اداره ملی حفاظت از محیط زیست اخذ گردیده است.
در بخش سرسبزی احداث پارک های سبز و گلدان های مسیر سرک های عمومی به زیبایی شهرک افزوده و هم اکنون ۱۳۰۰۰ نهال غرس شده در ساحات مختلف پروژه به دقت مراقبت و آبیاری می گردد.
وزارت شهرسازی و اراضی در راستای مبدل ساختن سکتور مسکن به یکی از ماشین های رشد اقتصاد ملی در عرصه شهرسازی؛ کار تطبیق ده ها پروژه مهم را در کابل آغاز نموده که از این میان، می توان از ترتیب و تطبیق چهارچوب طراحی شهر کابل، پلان ستراتیژیک انکشافی ولسوالی های قره باغ، شکر دره، میربچه کوت، سروبی، موسهی و استالف، ترتیب، تعدیل و اصلاح پلان های تفصیلی شهرک سره میاشت، شهرک قالین بافان و شهرک های معلمین ولسوالی های سروبی، استالف، قره باغ، چهارآسیاب، خاک جبار، موسهی و شکر دره نام برد.
از آنجایکه تولید مسکن باعث رفع چالش بی سرپناهی، رشد اقتصاد ملی و اشتغال زایی مستقیم و غیر مستقیم می گردد؛ وزارت شهرسازی و اراضی با حمایت بی دریغ مقام عالی ریاست جمهوری؛ کار تطبیق پروژه های رهایشی خواجه رواش، صدف، لاله، خوشحال خانه مینه، امارات و اولین پروژه نمونوی مسکن قابل استطاعت در شهرک مهاجرین مموزی را در شهر کابل تکمیل نموده است.
در همین راستا کار اعمار شهرک قطری ها، چینایی ها، سنایی غزنوی، ، قالین بافان، مکروریان پنجم، شهرک های صنعتی و رهایشی در ولسوالی های شکردره و بت خاک ولایت کابل آغاز گردیده که به وقت معین تکمیل و مورد بهره برداری قرار خواهد گرفت.
وزارت شهرسازی و اراضی با تعهد مخلصانه به مردم و جمهوری اسلامی افغانستان سعی می ورزد با مساعد ساختن شرایط لازم مشارکت جهت توسعه سکتور مسکن پایدار و فراگیر، ایجاد سیستم های موثر تمویل به منظور تهیه مسکن مناسب قابل استطاعت برای همه شهروندان، افزایش کارایی در عرضه و تولید مسکن، استفاده از زمین و املاک دولتی به هدف اعمار و تمویل پروژه های مسکن مصدر خدمات ارزشمندی به نسل های امروز و فردا گردد.

# د بشپړ خوندي ملکیتونو ژمنه سر ته رسیږي



حمید اسدي

په ۱۴/۱۲/۱۳۹۵ نېټه د جمهوري ریاست عالي مقام د ۲۵۰ مې شمېرې فرمان له مخې د قبالو ورکړې مسوولیت د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ستري محکمې څخه په تدریجي توګه ښار جوړولو او ځمکو وزارت ته لېږدول کیږي. د دې سترې پرېکړې موخې په محاکمو کې د قضایاوو راکمول، له اداري فساد سره مبارزه، د اسنادو د جعل او تذویر مخنیوی، د بیع بات او بیع جایزي قبالو ورکړې لپاره

د معیاري، شفاف او ګټور میکانیزم رامنځته کول، د قبالو په ورکړه کې له پرمختللي ټکنالوژۍ څخه ګټه اخېستل، د املاکو خوندیتوب، له غصب څخه مخنیوی، د ملي عوایدو زیاتېدول او د پانګونې جذب دي.

تمه ده چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په نږدې راتلونکي کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت سترې محکمې سره یو داسې پروټوکول لاسلیک کړي چې پر مټ یې د ښار



جوړولو او ځمکو وزارت په لومړي سر کې د قبالو د ورکړې ملي پروسه له هرات ولایت څخه پیلوي.

د ښار جوړولو او ځمکو وزارت له هغې وروسته چې د جمهوري ریاست عالي مقام د قبالو د مسئولیت انتقال فرمان صادر کړ، دغې ملي پروسې رسمي پیل لپاره یو لړ بنسټیز فعالیتونه ترسره کړي دي. د افغانستان د ځمکوالۍ چارو تنظیم قانون په اډانه کې په دې اړه تعدیلات، د قبالې د ثبت او ورکړې مقررې منظوري، د قبالې د ثبت او ورکړې کړنلارې تسوید او تصویب، امنیتي کوډونو سره مل د قبالې معیاري فارمې وروستي کېدل او د کورنیو او بهرنیو متخصصینو له خوا د (Open Source Database) په نوم د الکترونیک سیستم رامنځته کول په دې برخه کې اساسي او ترسره شوي فعالیتونه دي.

په همدې توګه په کابل، هرات، کندهار، ننګرهار، بلخ او پکتیا کې د قبالې د ورکړې ملي برنامې د پیل لپاره ۵۰۰ تجربه لرونکي کارکوونکي په دندو ګومارل شوي او ترڅنګ یې هڅوی ته د ظرفیت لوړونې برخه کې روزنه هم ورکړل شوې ده.

پر دې سربېره کابل، هرات، کندهار، ننګرهار، بلخ او پکتیا ولایتونو کې د قبالو ورکړې د دایمي ودانیو پنځوس سلنه رغنیزې چارې هم بشپړې شوي دي. هرات ولایت کې د مشتریانو د خدمتونو ځانګه هم جوړه شوې او د یادې برنامې مالي ملاتړ لپاره نړیوال بانک ته یو پروپوزل هم وړاندې شوی دی.

له شک پرته دغه ترسره شوي فعالیتونه ښیي چې د ښار جوړولو او ځمکو وزارت په دې برخه کې په سمه او اساسي توګه د ورسپارل شویو مسوولیتونو ترسراوي ته کلکه ژمنتیا لري.

دلته به ښه دا وي چې د ښې حکومتوالي اصلاحاتو کې د نړیوال بانک رپوټ ته هم ځغلنده کتنه وکړو. نړیوال بانک په ۲۰۱۹ کال کې «د اصلاحاتو لپاره د زده‌کړې» تر عنوان لاندې یو رپوټ خپور کړ چې افغانستان په کې د غوره اصلاحاتو له کبله د ۱۹۰ هېوادونو ترمنځ ۱۶۷ مقام خپل کړی دی.

په دې رپوټ کې ۱۹۰ هېوادونه د سوداګرۍ د پیل آسانتیاوو په تړاو د لسو شاخصونو: په الکترونیکي توګه د مالیاتو ورکړه، د محدودالمسوولیت شرکتونو د قانون تصویب



او توشبح، د ورشکستګۍ قانون تصویب او توشبح، پور ته لاسرسي، د ساختماني جواز ورکړه، د برېښنا انرژۍ برابرول، د جایدادونو ثبت، له سیمې او نړۍ سره سوداګري او د قراردادونو تطبیق له مخې ارزول شوي دي.

